دا په هر مسلمان حق دی چې په هرو اوو ورځو کې یو ځل غسل وکړي، چې په هغه کې خپل سر او خپل ځان ووینځي

له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «دا په هر مسلمان حق دی چې په هرو اوو ورځو کې یو ځل غسل وکړي، چې په هغه کې خپل سر او خپل ځان ووینځي».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې: د طهارت او پاکوالي په موخه په هر عاقل او بالغ مسلمان دا حق دی چې د اونۍ په هرو اوو ورځو کې یوه ورځ غسل وکړي؛ خپل سر او بدن ووینځي، او د دې کار لپاره تر ټولو غوره ورځ د جمعې ورځ ده لکه څرنګه چې له ځینو روایاتو څخه همداسې انګېرل کیږي او د جمعې په ورځ د جمعې له لمانځه څخه مخکې غسل کول تاکیدي مستحب عمل دی، اګر که د پنجشنبې په ورځ یې غسل هم کړی وي مثلا، او دا چې دا عمل واجب ندی دلیل یې د عائشې رضي الله عنها وینا ده چې فرمایي: هغه مهال خلک کاریګر و ، نو کله به چې د جمعې لمانځه ته لاړل نو همغه د کار په بڼه به لاړل: نو ورته وویل شو: "که غسل مو کړی وای "، بخاري روایت کړی، یعنې د خولو او داسې نور بویونه به ترې تلل، خو لدې سره یې بیا هم ورته وویل: "که غسل مو کړی وای" نو له دوی پرته په نورو خلکو خو په طریقه اولی سره واجب ندی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65084